


## فريد احمد « تسکين » ـ پکتيا



د نشر نيټه : ۴ سپتمبر ۲۰۱۳ ميلادی


# علامه خادم د پښتو ادب په درياب کې ورک غمی



پخوا په کابل کې اوسیدو زما د کاکا یو لویه الماري وه، چې کتابونه به پکې بلا بلا پراته و.د پښتو کتابونو سربیره روسي او دري ژبو کتابونه هم وو.
ښه مې په یاد دي ( نوې رڼا) په نوم مې یو کتاب ترسترګو شو دا کتاب ما را واخیست ګورم د شا لخوا راباندې د خپل کاکا غږ وشو اوړکیه کېږده کتاب چې ځیري یې نه کړې خدای ج شته ډېر خفه شوم. ماویل دا کاکا مې ولې دومره ظالم دی،چې ماته کتاب نه راکوي ولې پرما سبق نه وایي ولې ما ښوونځي ته نه لیږي؟
کله مې، چې دا د زړه د درد او بړاس خبرې خپل کاکا ته په داسي حالت کې کولې چې د څپیړې د وار احساس مې کاوه ولې داسې نه وه کاکا مې چې زما دا خبرې واوریدې په غیږکې یې ټینګ ونیولم قربان زړګیه ولې نه ته چې دومره سبق وایې او کتاب لوستل درته خوند درکوي زه سرله سبا تابیایم تصویرونه دې اخلم او په نږدې ښوونځي کې دې نوم لیکنه کوم.
ترببګا مې ټول وخت په خوښۍ تیرکړ زړه کې مې یو ډول د خوښۍ څړیکه تیریدله شپې مې هم د خوښۍ له وجې خوب ونه کړ.
سبا،چې کاکا مې دندې ته روان و زه یې هم بوتلم او عکاس ته یې وویل :
زما وراره ته د مکتب لپاره عکسونه وباسه په هغه وخت کې دومره پرمختللي کیمرې نه وې لکه اوسنۍ دیجیټل سیستم غونډې، چې په یوه دقیقه کې انځورونه د کاغذ پرمخ لیک کوي.
یوازې د لستوني کیمره وه عکاس لستونۍ ور دننه کړ. دڅوساعتونو وروسته مې تصویرونه تیار شول کاکا له ځانه سره خپل دفتر ته بوتلم دسبا په تمه مې د انتظار په اور ساعتونه تیرول؛خو زه څه خبر وم،چې زه به د ښوونځي دروازې ته نه ننوځم کتاب نه به محرومېږم او دمرمیو په اورکې به له کابل ځان نه کډه کوم.
تنظیمي جګړو نور هم زور واخیست ؛خو د ښوونځي ارمان مې پوره نه شو له څو کالو وروسته دتنظیمي جګړو پای وشو او د کربلا له توري تیارې راووتو.
له هغه وروسته د طالبانو حکومت ګدی حاکمه شوه او کاکا مې په ښوونځي کې داخل کړم ،چې دا دی اوس په ښو او بدو پوهېږم د پوهې په ارزښت او برکت مې سترګې خلاصیږي.
دا اغیزه هماغه د خادم صیب کتاب نوې رڼا برکت و،چې مینې یې وهڅولم او له یو ډول تلوسې سره یې مخ کړم.

اروابناد علامه خادم هغه پیاوړی شاعر،لیکوال او مفکر سیاستوال و،چې د پښتو ادب،سیاست او ټولنیز ژوند لپاره یې ډېرڅه د زړه په وینو په قلم لیک کړي او نړیوالو ته یې وړاندې کړي دي.
علامه خادم خپلي زده کړې له جومات نه پیل کړې او تر پوهنتونونو او بهرنیو سفرونو یې ورسولې،هغه په سیاست کې هم اهمه ونده اخیستې بیلابیل اثار یې لیکلي د هیواد د بیا رغوني په بهیر کې یې په مشرانو جرګه کې د خپل ولس استازیتوب هم کړی،د پښتو ادب لپاره یې د ژبې شعري صنف او نثر کې هم خورا مهم اثار لیکلي دي.
پښتو متل دی،چې میره ووژنه خو میرانه یې مه وژنه په ریښتیاهم دا متل زموږ په هیواد په ځینو ځایونو کې عملي شوی او په ځینو ځایونو کې ترپښو لاندې شوی دی.
دستر مفکر نړیوال سوله پرست غفارخان بابا وینا ده،چې مړه قومونه مړه ستایي او ژوندي قومونه بیا دژوندیو ستاینه کوي. زموږ ټولنه په تیر دور کې د باچاخان بابا د وینا مطابق په داسې حالت کې وه ، چې یوازې دهغه چا ستاینه به مو کوله ، کله به مو چې یوه وتلې څیره له لاسه ورکړه او د تورو خاورو لاندې به شوه؛خو اوس دخوانو فرهنګ پالو د پرله پسې هڅو او زیار په پایله کې حالاتو ډیری بدلون کړی دی.

پخوانی ناسم کلتور مو،چې یوازې له لاسه ورکړ دمړو کدرونو ستاینه به مو کوله اوس په دې بدل شوی،چې دخپلو ژوندیو هڅاندو او ملي کدرونو د دوئ په ژوند کې د دوئ د هڅو ستاینه وکړو.

**داچې علامه خادم صیب زموږ له نظره غورځیدلی دی د پښتو ادب په دریاب کې یو ورک غمی دی باید چې ولټول شي دفکر په صحرا کې یې پراخ مزل وشي اود ژوند او خوند لپاره ترې د خوندونو او پندونو جوهر راټول شي او هڅه وشي،چې د دې غمي قدر وقیمت اندازه وشي او د فکر ډیوه یې په تیاره تیاره ژوندون کې روښانه کړو.**

د خادم صیب اثار د تخیل تازګي، تجزیاتي انداز، دقامولی جذبه، د ظلم پر وړاندې قلمي مبارزه، تخلیقي تولید،کلیوالي او مذهبي روایت،خوند اوپند ،دبیداری جرس،تاریخي تلمیح ګاني، د فکر معنوي پراختیا،سوز و ګداز،دپښتني تهذیب اقدار او نړیوال فکر هغه څه دي،چې علامه خادم یې د یوه ځانګړي اسلوب له مخې علامه او دپښتو ادب ستوری وګرځاوه.
زه له ټولو لیکوالو غوښتنه کوم،چې د خادم صیب فکري خزانه راوسپاړي اوځوان نسل ته یې ولیږدوي ترڅو زموږ ځوان نسل ترې د فکري سرمایې برخمن شي.
که ریښتیا راباندې ووایئ د ده دهم عصري زماني یارانو لیکوالو ورسره هیڅ د وفا لاره نه وه نیولې او په هماغه وخت کې چې تنظیمي جګړو سنګرونه ښه تاوده وو.

د ده یو زیات شمیر کتابونه د هیواد دوښمنانو لخوا وسوځول شول او پاتې نور په کتابتونونو کې غیب شول او ځینې اثار یې،چې پاتې دي د ځینو با احساسه پښتنو لیکوالو او شاعرانو سره دي.
له اطلاعاتو او کلتور وزارت هیله او غوښتنه کوم، چې د خادم صیب د اثارو چاپ او د غونډو تابیا ونیسي او له ځوانو با احساسو تجارانو هم غواړم څو په دې برخه کې خپلې مالي مرستې ونه سپموي.

همدا ډول د خادم صیب د کورنی له غړیو هیله کوم،چې د ده اثار تر لیکوالو او خپرندویه ټولنو ورسوي څود چاپ په ګانه سمبال شي.
په پای کې د افغانستان د هنر او کلتور د ودې ټولنې له مسوولینو غرونه غرونه مننه کوم،چې د پښتو ادب په دریاب کې د ورک غمي د لټون هڅه کوي او دا غونډه یې د ده د فکري خزانې پر ویاړ راوبلله.
د خادم صیب د ارمانونو د پوره کیدو په هیله

****

فرید احمد « تسکین »
پکتیا ـ ګردېز نوی ښار
۱۱/۶/۱۳۹۲ وږی

بازګشت به صفحه اصلی - [www.said-afghani.org](http://www.said-afghani.org)